# د "افغان" کلمې جاج د خوشحال خان خټک د کلام په رڼا کښې

# Diverse Perceptions of Term "Afghan" in the Poetry of Khushal Khan Khattak

Sajjad Elahi [1], Naila [2]

The term Afghan is an ethno-geographic term usually referred to the inhabitants of the land between River Oxus and River Indus. The geo-socio situation and strategic importance of the lands of Afghan have contributed a lot to construct and develop various psychological and physiological characteristics of the inhabitants of this very land. In this paper, before figuring out the diversity of perceptions of term "Afghan" in the poetry of Khushal Khan Khattak, we have tried to define the term "Afghan" and explore various characteristics of the term. Then the term has been elaborated through Khushal Khan Khattak poetry and has been particularized in the present age. The glory associated with this term and its psychological aspects have been discussed in the light of the poems and various verses of the most enlighten Khushal Khan Khattak.

پښتانۀ چې په نړۍ کښې وخت په وخت په مختلفو نامو یاد شوي دي ـ په دغه نامو کښې پښتون (پکهت، پکت، پکتیکا) افغان، روهیان، او پټان زیات مشهور دي ـ د ډېر وخت نه یوه کشاله د کوزې پښتونخوا په پښتنو کښې مېنځ ته راغلې ده چې یو شمېر نوے زلمے کول د "پښتون او افغان" په حقله د کنفیوژن سره مخ دي چې ایا مونږ پښتانۀ یو او کنه افغانان یو ـ دې سره یو لوے بحث رامېنځ ته شي ـ زمونږه موضوع هم نن دغه ده چې د افغان کلمې بشپړه معنوي اړخونه د خوشحال خان خټک د شاعرۍ په رڼا کښې د څېړنې لاندې راولو چې ورسره به دغه ستونزه سره هم څۀ قدرې هواره شي ـ تر ټولو اول غواړم چې اول د لفظ "افغان" په عمومي تاریخ او معنوي اړخونو باندې بحث د پوهانو په رڼا کښې وکړم ـ

1 PhD scholar Department of Pashtu university of Peshawar
2 M.Phil. scholar Department of Pashtu university of Peshawar

افغان لکه څنګه چې دغه قام د جغرافیې له مخه پېژندلے شي ـ دا جغرافیه د امو نه تر اباسینه پورې خپل حد لري چې د دې وسېدونکو ته افغانان وئیلے شي ـ

"لکه څنګه چې پوهېږو دغه هېواد ته له دې کبله افغانستان وائي چې اوسېدونکي ئې افغانان دي چې دغسې نومونه په نورو هېوادونو هم لیدلے شو لکه د هندوستان نوم چې د هندوانو د شته له امله مېنځ ته راغلے دے او هم دا راز ترکستان د ترکان د اوسېدونکو له امله په دغه نوم بللے کېږي په نړۍ کښې نور ډېر داسې هېوادونه بللے شي چې نوم ئې د پکښې مېشته قام له نوم څخه یو د "ستان" کلمې په زیاتولو جوړ شوے وي ـ چې د ستان څخه مقصد زمکه او ځاے دے لکه بلوچستان ، عربستان ، انګلستان ، ازبکستان وغېره"1ـ

که د دې نه پس ته مونږه وګورو نو یوه خبره په ډاګه ده چې "ستان" ځاے ته وائي نو "افغان" پکښې اوسېدونکے دے دغه افغان څوک دے له کومه راغلے دے دا یوه ځانله موضوع ده خو تر کومه چې د دې لفظ تاریخي شواهد دي نو غوارم چې څو رائې د پوهانو د نظر سره شریکې کړم ـ محترم سعدالله جان برق د خپل تحقیق په رڼا کښې "افغان د ابګان کلمې وران شوے شکل ګڼي او دغه دلیل پیش کوي چې پښتنو ټول عمر د سیندونو یعنې د اوبو په خوا کښې ژوند کړے دے له دې وجې دې خلقو ته "ابګان " یعنې ابو والا خلق وئیل کېدل ـ لکه چې مخکښې وائي !

"یہ اپ گان یا اپہ گان جو پانی کے قریب وجوار میں رہتے تھے اُسی دور کے مطابق یہ ابگان کہلائے گئے جو بعد میں اپگان، افغان اور اوغان وغیرہ کے شکلے اختیار کرتا چلا گیا۔ یہی گان یا غان مزید پھیل کر قان، خان بن گیا۔"2

د برق صیب د خبرې نه خو دا خبره په ډاګه ده چې یو خاص خلق وو چې هغوي په افغان مشهور شول دغه خلق څوک وو هم دا پښتون قام وۀ چې پښتانۀ هم بللي شول او افغان هم ـ د افغان د دغې کلمې په حقله ښاغلے جمیل یوسفزے لیکي چې !

"الیگزینڈر (Alexander)، کننگھم اور کئی دانشور اسواک کا جدید نام افغان تسلیم کرتے ہیں۔ پانچویں صدی قبل مسیح کے ماہر لسانیات پاینی ان کو اشواکیان اور اشوایان کہتے ہیں

ایک قدیم ہندی منجم وارہ متھرا۶عیسوی میں بھارت سمریتہ میں افغانوں کا ذکر اوگانہ کی شکل میں کرتا ہے۔''3

ژباړه: (الیګزنډر، کننګهم او داسې ډېر دانشوران د اسواک نامه افغان تسلیموي ـ په پینځمه صدئ عیسوي کښې په بهارت سمرته کښې د افغانانو ذکر د ''اوګانه'' په شکل کښې شوے دے) ـ

ولې تر کومه حده چې د ژېپوهنې خبره ده نو دا خبره هم د ذکر وړ ده چې د اسلام د راتلو نه پس چې کله عرب خلق غور ته راغلل نو د دغه ځاے خلق ئې په کثرت سره ''افغان'' وبلل ـ له دې وجې د ''پ'' او و'' ځینې اوازونه د عربۍ په ''ب او ف'' بدلېږي ـ هم دغسې ''ګ په غ او ق'' باندې خپل اواز بدلوي له دې وجې ممکنه ده چې ''اپ اب ګان په اف غان او اوغان'' بدل شوي وي ـ هم دغسې که چرې مونږه د پښتنو د نسلي څېړنې په رڼا کښې د بني اسرائیلو نظریه راخلو نو په هغې کښې په اول ځل نعمت الله هروي دغه ''افغان'' د یو چا نامه ښودلې ده لکه چې وائي چې کله د طالوت نه دوه ښځې د داود علیه السلام په ته پاتې شوې او هغهٔ د دې ښځو پالنه کوله نو د دوي نه دوه ماشومان وزېږدل چې د یو نامه ''برخیا'' وه او د بل نامه ''ارامیا'' وه ـ دغه دوه هلکان چې کله داود علیه السلام سره لوي شول او په سلطنت کښې ئې برخه واخسته نو بني اسرائیلو ته ئې ډېره وده ورکړه روستو نعمت الله هروي لیکي چې !

''حق تعالیٰ نے محض اپنے فضل و کرم سے ان میں سے ہر ایک کو ایک ایک صحیح سالم لڑکا عطا کیا برخیا نے اپنے جگر گوشے کا نام آصف رکھا اور ارمیا نے اپنے لخت جگر افغنہ کے نام سے موسوم کیا''4۔

خداے پاک په خپل رحم سره د دواړو ته یو یو زوے ورکړو چې په دوي کښې برخیا خپل زوي ته د اصف نامه کېښوده او ارامیا خپل زوے افغنه نوم باندې وبالهٔ ـ

خو ولې د نعمت الله هروي دغه خبره چې هغهٔ په تورات او نجيل اډانه ګڼلې ده نو دغه نامه چې هم دغه ګتابونو کښې ذکر نهٔ ده ـ له دې وجې له دې بحث نه به تېر شو او راځو چې د خوشحال خټک په نظر کښې افغان څوک دے او هغهٔ افغان چاته وائي ـ

خوشحال خان خټک په يو شمېر شعرونو کښې د افغان کلمه راوړلې ده ـ خوشحال د پښتنو هغه نابغه دے چا چې تر ټولو اول ئي د پښتون وطن جغرافيه په ګوته کړې ده لکه وائي چې !

درست پښتون له قندهاره تر اټکه
سره يو د ننګ په کار پټ او اشکار 5

هم په دغه سيمه کښې کومه چې د چين او ايران ، تاجکستان او هند سره لګېدلې ده چې د افغانانو مسکن دے ـ د ډيورنډ د معاهدې نه پس د دې څهٔ حصه اوس د پاکستان حصه بللے شي ـ خو بيا هم په دغه سيمه کښې پښتون افغان اباد دے ـ لکه ما چې څنګه پورته د راپيښې ستونزې خبره وکړه نو زهٔ هم دغه کشاله د خوشحال خټک له نظره د هوارولو هڅه کوُم ـ په پورته ذکر شوي جغرافيه کښې اوس پنځوس خواوشاه ژبې وئيلې شي ـ چې پکښې درې دېرش د کوزې پښتونخوا ژبې دي ـ که چرې مونږه دا ووايو چې دغه ټول مختلف ژبې ويونکي افغانان دي خو پښتانهٔ نهٔ دي نو بيا سوال پورته کېږي چې افغانان څوک دي ـ ځکه چې پورته د "ستان" خبره وشوه چې مسکن ته وئيلے شي ـ نو لازماً ده چې افغان به خو خامخا يو څوک په دغه ستان کښې وي ـ که د تاريخ په لور شاته لاړ شو نو خوشحال خټک چې په خپل شعر کښې چرته هم پښتانهٔ يادوي نو افغان يادوي ـ لکه وائي چې!

د افغان په ننګ مې وتړله تُوره
ننګيالے د زمانې خوشحال خټک يم 6

لنګر کوټ مغلو ساز کړو
زهٔ په ننګ بيا د افغان شوم
يوسفزے ؤ که مندڼ ؤ

زۀ د واړو نګهبان شوم 7

دلته د خوشحال خټک د "افغان" نه مراد خالص پښتون قام دے ۔ ولې چې یوسفزے او منډڼ پښتانۀ دي او د دوي په سیمه کښې داسې بل قام نشته چې خوشحال هغوي یاد کړي چې افغانان دي ۔ خو د ځیني پوهانو خیال دغه دے چې د "افغانستان" په خاوره اوسېدونکے هر قام افغان دے ۔ خو تر کومه د ملک او د وطن خبره ده نو دې کښې هیڅ باک نشته چې څوک په کومه خاوره مودې واړوي هم د هغې خاورې بللي شي ۔ ځکه زۀ دې خبرې سره صرف په دغه یو دلیل متفق یم چې د افغانستان هر وسېدونکے افغان دے ۔ خو په کوزه پښتونخوا کښې د پوهانو له خوا دا خبره کول چې دلته پښتانۀ اوسېږي او افغانان هغه دي کوم چې د طورخم یا چمن نه په بره اوسېږي ۔ لکه برق صېب چې کومه خبره کوي وائي چې !

"لفظ پشتون میں آپ کسی اور کو شامل نہیں کر سکتے صرف پشتو بولنے والے اور پشتو دستور العمل والے ہی پشتون کہلاتے ہیں لیکن افغان کے دائرے میں ازبک تاجک ہزارہ اور ترکمان وغیرہ بھی آتے ہیں۔" 8

(په لفظ "پښتون" کښې تاسو صرف پښتو ویونکي او پښتو کونکي خلق پښتانۀ بللي شئ ۔ خو د افغان په دائره کښې ازبک ، تاجک، ترکمان وغېره هم شامل دي)

خو زۀ د محترم مشر د دې خبره سره متفق نۀ یم ځکه چې په افغانستان کښې د وسېدو له وجې خو دغه خلق افغانان دي خو د نسل له وجې ازبک ،تاجک ، ترکمان او داسې نور خپل جدا دود ستور کلتور لري ۔ بله خبره دا ده چې څنګه پټان خاص د پښتنو یو نوم دے دغسې افغان هم دے ۔ کوم چې د تاریخ نه هم څرګنده ده چې کله د "افغان" ذکر راغلے دے نو مطلب صرف هم دغه پښتانۀ دي نه چې ازبک ، تاجک یا نور څوک دي ۔ د دې لوے ثبوت هم د خوشحال خان خټک شعرونه دي چې هغه افغان پښتون قام ته وائي ۔ لکه وائي !

دا هم ځاے د تعجب دے که ئې وینې
چې مغل کاندي بازیه په افغان 9

که د دې شعر منظر ته موږ په غور سره وګورو نو مغل چې په افغان بازيه کوي دغه مغل هم د غور او بخد د مدنيتونو نه وتلي خلق دي هغوي ولې مغل يادېږي او افغان ولې جدا يادېږي ـ بله خبره دغه ده چې که يو ازبک يا تاجک د نړۍ په هره سيمه کښې مېشته شي هغه ځان ته افغان نۀ وائي ـ خو پښتون که په لاهور کښې ژوند کوي او که په حېدراباد ، دکن يا پېښور کښې ژوند کوي خپل ځان ته افغان وائي ـ خو هغه تاجک هغه ازبک چې په افغانستان کښې مېشته دي هغوي افغانان ضرور دي خو په دې خاوره د وسېدو له وجې ، د نسل له وجې نه ـ د خوشحال خټک څو نور شعرونه هم داسې دي چې پښتانۀ افغانان يادوي او نور قامونه د هغوي په نامه يادوي لکه دا شعر!

چې په خپله افغانۍ ژبه نادان دي
په ترکۍ خبرې څۀ وائي افغان ته 10

پورته شعر کښې ترک نسل هم ياد شوے دے چې نن هم په افغانستان کښې د ترکمن په نامه ژوند کوي ـ يوه خبره په ډاګه ده چې د غور او بخد هغه اوسېدنکي چې هم د دې مدنيت په زانګو کښې زېږدلي دي له زرګونو کلونو راهسې ژوند کوي او خپله جغرافيه ئې د موسم يعنې او اب وخوا له مخه پکارولې ده ـ يعنې اوړے ئې د امو په غاړه کړے دے او ژمے ئې د اباسين په غاړه کړے دے هم دغه خلق افغان دي او هم دغه خلق پښتانۀ دي ـ لکه غوث خيبرے وائي !

"د باچا تمورث له پاره پردۍ ژبې وې ځکه خو ورباندې نۀ پوهېدل تمورث د پشيداديانو کورنۍ سره تړاو درلود او تاريخ پوه ډاکټر "توراويانه" ليکي ! چې د پېشداليانو کلمه د پارتانو يا پاردانو د نامه ژباړه ده او د دوي په خټه افغانان دي ـ د همدې خبرې له مخې سرے پوهېدلے شي تمورث د بلخ د افغانانو پښتنو څخه وۀ او ژبه ئې هم پښتو وه ـ او شونې ده چې د شاهنامې په شعرونو کښې د لاس وهنو په وخت کښې د افغاني يا پښتو ژبې نوم ايستل شوي وي ـ"11

زما خبره دلته په ډاګه شوه چې د امو او اباسين په مېنځ کښې ژوند کونکي خلق افغانان وو چې پښتانۀ او پټانان هم ياد شوي دي ـ او دا خبره هم په ډاګه شوه چې افغان او پښتون يو دے نۀ چې

د خاورې له نسبته ئې يو وګڼو بلکې نسل يا قام هم يو دے ـ د خوشحال خان خټک څو نور شعرونه ـ-ـ!

چې مغلو سره ګښېناستې مغل شې
د افغان سره چې ګښېني نو افغان شي 12

هنګامه ده لا په مېنځ ګښې
د مغل او د افغان 13

دا نادره عقيده لګه زما ده
لا عجب که بل پېدا هسې افغان شي 14

زما د خبرو لنډيز هم دغه راوځي چې د امو تر اباسين چې کومو خلقو ته افغانان وئيلي شي هغه هر څو که د جغرافئې په لحاظ هرې ژبې ويونکے افغان دے خو ولې د نسل په اعتبار افغانان صرف پښتانۀ دي کوم چې د دنيا په هره سيمه ګښې مېشته دي ـ

## ماخذونه


۱: ظريفي، محقق فرهاد، مخزن افغاني، دانش خپرونديه تخنيکي ځانګه پېښور، ۲۰۰۷، مخ ۴۵

۲: Barq, Sad Ullah Jan , Pashtun aur Nasleyat,e Hindukash,Naveed Hafeez press Lahore, 2018, 480

۳: يوسفزے، جميل ، پختونوں کی جڑیں ، عکس پرنٹنگ پریس بٹ خیله ، جنوری ۲۰۱۸، ص ٦۹

۴: هروی ، نعمت الله ، مخزن افغانی و تاریخ خان جهانی ، اردو سائنس بورڈ لاهور، ۱۹۷۸ء، ص ۸۲

۵: د خوشحال خان خټک کليات،مقدمه يار محمد مغموم ،يونيورسټي بک ايجنسي، ۲۰۱٦، مخ ۴۷

٦: همدا کتاب،۴۵

۷: همدا کتاب، ۳۹

۸: Barq, Sad Ullah Jan , Pashtun aur Nasleyat,e Hindukash,Naveed Hafeez press Lahore, 2018, 480

۹: د خوشحال خان خټک کليات،مقدمه يار محمد مغموم ،يونيورسټي بک ايجنسي، ۲۰۱٦، مخ ٦۷۳

۱۰: خېبري ، غوث ،پښتانۀ د اريانه په کيسو ګښې ،اسد دانش مطبعه،۲۰۰٦ء ، مخ ۷

۱۱: کليات خوشحال خان خټک ،غزليات، مرتب شېرشاه ترخوي ، ۲۰۱۳، مخ۴۲

۱۲: د خوشحال خان خټک کليات،مقدمه يار محمد مغموم ،يونيورستي بک ايجنسي، ۲۰۱۶، مخ۹۱۷
۱۳: کليات خوشحال خان خټک ،غزليات، مرتب شېرشاه ترخوي ، ۲۰۱۳، مخ۱۳۴
۱۴: د خوشحال خان خټک کليات،مقدمه يار محمد مغموم ،يونيورستي بک ايجنسي، ۲۰۱۶، مخ۹۱۰